د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

پنځه ويشتمه ګڼه (تله) ۱۴۰۳ : شماره (۲۵) (ميزان) ۱۴۰۳ لومړی مخ - صفحه اول



# راستنيدنه عودت
هفته نامه

پـه ادارو کې د مشکلاتو شکايتونه راځي، د خلکو کارونه مه ځنډوئ، دروازې د خلکو پر مخ مه بندوئ، د خلکـو د خدمت لپاره لاري خلاصې کړئ او خپلو وظيفو ته متوجې شئ.
أميرالمؤمنين ملا هبة الله حفظه الله

## د پنجشير ولايت يو شمېر قومي مشرانو د مهاجرينو وزير سره وليدل



د پنجشير ولايت ځينو قومي مشرانو او سپين ږيرو د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو له وزير سره وليدل.

په دې ليدنه کې چې د ياد ولايت مهاجرينو امر حاجي محمد رها ابرار هم ګډون درلود، هغوی په مختلفو برخو کې د مهاجرينو له وزير سره خپلې ستونزې شريکې کړې.

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير د ستونزو د حل ډاډ ورکړ او زياته يې کړه، چې خلکو ته د خدمتونو وړاندې کول او د برنامو پلې کول د اسلامي امارت له موخو څخه دي.

نوموړي په دې برخه کې د مشرانو او سپين ږيرو رول مهم وباله.

## بزرگان قوم ځدران وغوتان خيل با وزير امور مهاجرين ديدار نمودند

شماری از بزرگان و موسفيدان قوم های ځدران و غوتان خيل ولايات مختلف کشور با الحاج خليل الرحمن حقانی وزير امور مهاجرين و عودت کننده گان ديدار کردند.

اين ديدار که در دفتر کاری وزير امور مهاجرين صورت گرفت، آنان ضمن تشکری از محترم حقانی بر ايجاد فرصت ديدار و ملاقات با ايشان از حاکميت نظام اسلامی و امنيت کامل در کشور ابراز خوشحالی نمودند.

آنها علاوه بر مشکلات قومی خود، مشکلات برگشت کننده گان شان را در عرصه های تحصيل، سرپناه و فرصت های کاری با وزير امور مهاجرين در ميان گذاشته و خواهان حل آن شدند.

وزير امور مهاجرين به آنان از هرگونه همکاری در حل مشکلات انها اطمينان داده افزود که برای ما ملت و ارزش های ملی اولويت دارد، و دستورات ديگران را در برابر اين امر نمی پذيريم.

محترم حقانی در سخنان خود بر وحدت و اتفاق ملت ها تاکيد کرد، و اختلافات قومی، منطقه ای و زبانی قبلی را نتيجه دخالت دشمنان خواند.



## نشست مجازی (آنلاين) با اتشه های مهاجرين افغان مقيم کشور های همسايه برگزار شد

الحاج خليل الرحمن حقانی وزير امور مهاجرين و عودت کنندگان با حضور برخی از روسای مرکزی اين وزارت با مسئولان اتشه های مهاجرين افغان مقيم شهر های اسلام آباد، پشاور،کويته کشور پاکستان و شهر های تهران مشهد و زاهدان کشور ايران نشست مجازی (آنلاين) برگزار نمود.

در اين نشست در مورد وضعيت کلی و مشکلات مهاجرين در ايران و پاکستان مورد بحث قرار گرفت.

مسئولين اتشه های مهاجرين معلومات را در مورد وضعيت مهاجرين، فعاليت، خدمات ارائه شده به مهاجرين و مشکلات شان را با محترم حقانی در ميان گذاشتند.

وزير امور مهاجرين در سخنان خود از رفع نيازهای آنان اطمينان داده و با آنان هدايات لازم را در اجرای کار ها با هماهنگی سفارت افغانستان و ساير ارگان های ذيربط بيان داشت.

وی گفت: تلاش داريم که در کشورهای ميزبان سهولت های را در زمينه اخذ پاسپورت و کارت های شناسايي ايجاد کنيم.

محترم حقانی بر شفافيت و سرعت در کار ها و همچنين پابندی به اصول و قواعد شريعت تاکيد کرد.





اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت

# دو تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

## د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست نوي ځای ته ولېږدول شو

د کابل ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست خپلو موخو ته د ښې رسېدنې او بې ځایه شویو او راستنېدونکو ته د لا زیاتو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه له خپل پخواني ځای څخه نوي ځای ته ولېږدول شو.

په دې اړه په جوړو شویو مراسمو کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د کابل ولایت والي شیخ امان الله عبید او د مهاجرینو چارو وزارت ځینو مرکزي ریيسانو ګډون کړی و.

ښاغلي حقاني په خپلو خبرو کې هیله څرګنده کړه، چې د کابل د مهاجرینو ریاست به وکولای شي له نویو اسانتیاوو څخه په ګټنې سره د خلکو لا ښه چوپړ او خدمت وکړي.

نوموړي د کاري بهیر د لیدنې پر مهال د دې اداري کارکوونکو ته له مراجعینو سره د ښه چلند په اړه لازمې لارښوونې وکړې او په کاري برخه کې یې د شته ستونزو د حل او ورته د رسېدنې ډاډ ورکړ.

د کابل والي د خپلو خبرو په ترڅ کې له ګاونډیو هېوادونو څخه په جبري توګه راستنو شویو مهاجرینو ته د خدمت په برخه کې د مهاجرینو چارو وزارت د رهبرۍ د کار او مدیریت ستاینه وکړه.

د کابل ولایت د مهاجرینو چارو ریيس مولوي عبدالرحمن حبیبزي د پخوا په پرتله د صادقانه او ښتینو خدمتونو په ترسره کولو کې د لا همغږۍ او همکارۍ ډاډ ورکړ.



## د وزارت مسلکي مرستیال فاریاب کې د ښار او کور جوړونې وزارت له پلاوي سره وکتل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد په فاریاب ولایت کې د ښار او کور جوړونې وزارت له پلاوي سره وکتل.

د دې سفر موخه په فاریاب ولایت کې د مهاجرینو د ښارګوټو سروې وه.

دغه پلاوي له ښاغلي راشد سره د خپل سفر موخه چې په فاریاب کې د مېشتو مهاجرینو د ښارګوټو سروې وه، شریکه کړه.

د وزارت مسلکي مرستیال په چارو کې د همغږۍ غوښتنه وکړه او د چارو د ښه والي په موخه یې لازمې لارښوونې ورته وکړې.



## دو تفاهم نامه همکاری در وزارت امور مهاجرین به امضا رسید

دو تفاهم نامه های همکاری به ارزش یک میلیون و ٤ صدو ٤٧ هزار و ٣٣ دالر با موسسات ودان افغانستان و هیات ناروی برای مهاجرین در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه های یاد شده موسسه هیات ناروی برای مهاجرین مبلغ ٨ صدو ٦٠ هزار و ٣٧ دالر امریکایی را در بخش های ساخت سرپناه دایمی، ترمیم و باز سازی سرپناه، پرداخت کرایه خانه، خریداری سولر و آموزش ساخت و ترمیم سرپناه برای مستفدین در ولایات کابل، قندهار،کندز، ننگرهار، سرپل، هرات و زابل به مصرف میرساند که ٥ هزار و ٥٦٨ تن از آن مستفید خواهند شد.

وموسسه ودان افغانستان مبلغ ۲ صدو ۳۸ هزار و ٦٩٦ دالر را در بخش های آموزش زنبورداری و بازاریابی تنظیم تجارت و خریداری کیت زنبور داری برای ١٥٠ تن در ولایات ننگرهار و لغمان عرضه خدمات مینماید.

تفاهم نامه های یاد شده توسط مولوی محمد جان خدر خیل سرپرست معینیت مسلکی و رییس دعوت وارشاد وزارت و نماینده های موسسات یاد شده به امضا رسید.




## پکتیا کې تېزو بادونو درانه زیانونه اړولي دي

پکتیا ولایت پټان ولسوالۍ کې تېزو بادونو خلکو ته درانه زیانونه اړولي دي.
پکتیا ولایت د مهاجرینو ریاست د راپور له مخې، د دغه بادونو له امله څو ودانۍ زیانمنې شوې، ۲۰ کورنۍ بې ځایه شوې او ډېرې مېوه لرونکې او غیرې مېوه لرونکې ونې هم له منځه تللې دي.
د یاد ریاست له لوري هرې کورنۍ ته یوه یوه خیمه هم ورکړل شوه.



## د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو ریيس د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د اسیایي او اقیانوسي هېوادونو د روغتیا له مسول سره وکتل

د هلمند ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریيس مولوي الله داد انقیادي د تلې پر نهمه د خپل کار په دفتر کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ د اسیایي او اقیانوسي هېوادونو د روغتیایي برخې له مسول ښاغلي لکرون داسان یاکي او مل پلاوي سره وکتل.
ښاغلي انقیادي په دې کتنه کې د بې ځایه شویو او جبري راستنو شویو لپاره د روغتیایي مرکزونو د جوړولو، د اوبو شبکو، د واکسیناسیون د تطبیق لپاره د روغتیایي مرکزونو او د مهاجرینو د اوسېدو په سیمو کې د لومړنیو مرستو غوښتنه وکړه، چې له جبري راستنو شویو سره مرسته وکړي.
د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د اسیایي او اقیانوسي هېوادونو د روغتیا د برخې مسول ژمنه وکړه، چې هېواد ته په جبري توګه راستنو شویو مهاجرینو سره به مرسته وکړي او روغتیایي مرکزونه به جوړ کړي.





هفته نامه عــــودت راستنیدنه اونیزه

شهادت هغه لوړ مقام دی چې الله تعالی یې په خپلو نېږدې بندګانو پېرزو کوي، دا په ځانګړې ډول زما د خپل فامیل لپاره د الله تعالی له طرفه یو سعادت دی او د الله جل جلاله په نزد په دې ویاړم، چې د کورنۍ غړي مې الله تعالی په خپله لاره کې د شهیدانو او مجاهدینو په توګه قبول کړل.
مرحوم الحاج جلال الدین حقاني رحمه الله

## نشست مسوولان سفارت افغانستان و معاون اتشه مهاجرین با نماینده های کمیته بین المللی صلیب سرخ در کشور ایران برگزارشد

نشستی مسوولان سفارت افغانستان و معاون اتشه مهاجرین افغان مقیم شهر تهران کشور ایران با نماینده صلیب سرخ در آنکشور پیرامون مشکلات مهاجرین در زمینه صحت، الحاق اعضای مفقود شده خانواده ها، انتقال اجساد مهاجرین از ایران به افغانستان و توان بخشی برگزار شد.

این نشست که در مقر سفارت افغانستان در تهران برگزارشده بود مولوی فضل محمد حقانی سرپرست سفارت افغانستان، مسوولان امور قونسلی، سیاسی، اتشه های مهاجرین و معارف،اقای ونسنت کاسارد رییس نماینده گی صلیب سرخ و خانم مارتینا توسکا سلیس هماهنگ کننده بخش الحاق خانواده صلیب سرخ حضورداشتند.

سرپرست سفارت با خوش آمدید به مهمانان از همکاری صلیب سرخ برای مهاجرین افغان سپاس گزاری نمود.

ونسنت کاسارد رییس صلیب سرخ در کشور ایران ضمن سپس گذاری از سفارت افغانستان در مورد فعالیت های آن دفتر در ایران معلومات ارایه نمود و به طور نمونه تاسیس مراکز درمانی در شهرستان گل شهر مشهد و شهرستان زایدان یاد آوری نمود که بیشترین مراجعین و دریافت کننده گان خدمات درمانی این مراکز مهاجرین افغان میباشند.

علی رضا اسدی معاون اتشه مهاجرین افغان مقیم تهران در مورد مشکلات صحی، مالی، اقتصادی و زنان و کودکان که سرپرست شان رد مرز میگردند انتقال اجساد مهاجرین و توان بخشی مهاجرین دارای معلولیت را به حاضرین در نشست بیان نمود.

وی در زمینه حل مشکلات و چالش ها از کمیته صلیب سرخ مقیم ایران خواهان همکاری گردید که رییس کمیته صلیب سرخ ضمن محدودیت ها و قلیل بودن منابع وعده نمود که در هماهنگی با سایر نهاد ها در زمینه جلب کمک ها در آینده تلاش نمایند.

آقای ونسنت کاسارد وعده سپرد که در هماهنگی با سایر موسسات بین المللی کمک های بیشتر را برای مهاجرین افغان در ایران فراهم سازد.



## کندز کې د نړیوالو همکارو موسسو له استازو سره د وزارت د پلاوي ناسته وشوه

کندز ولایت ته د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت تللي پلاوي د کندز د مهاجرینو چارو له رییس او له کابل څخه د تللیو او هلته د نړیوالو همکارو موسسو له استازو سره وکتل .

د وزارت د داخلي بې ځایه شویو وضعیت ته د رسېدنې رییس مولوي سردار شېرزاد د سفر د موخو او د ګډو تخنیکي ټیمونو او د داخلي او نړیوالو موسسو او بنسټونو د همکارۍ په اړه توضیحات ورکړل.

نوموړي له کابل ولایت څخه د کندز د چهاردرې ولسوالۍ ته د داخلي بې ځایه شویو په منظم ډول خپلو سیمو ته د ستنېدو او هغوی ته د لازمو خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د دوی د همکارۍ غوښتنه وکړه.

وروسته د ملګرو ملتونو د مرکزي دفترونو د ګډ تخنیکي ټیم رییس ښاغلي ونسټ وویل: په دې برخه کې ډېر بحثونه په مرکز کې په تفصیل سره شوي او له اړوندو نړیوالو بنسټونو سره لازمه همغږي شوې ده، چې هر دفتر یا کلستر باید د بې ځایه شویو او راستنېدونکو خلکو سره همکاري او رسېدنه وکړي.


د کندز ولایت دمهاجرینو چارو رییس مولوي عبدالولي محمدي د دغو بنسټونو د همکاریو قدرداني وکړه او په راتلونکي کې یې دهمکاریو او پروژو دزیاتوالي غوښتنه څرګنده کړه.

نوموړي د دغې موضوع په اړه یو څه اړین معلومات هم د ناستې له ګډونوالو سره شریک کړل.

د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام استازي ښاغلي دوکن خبرې وکړې او زیاته یې کړه: د دوی اداره هم له دې مسئلې پوره خبر ده او له راستنیدني وروسته به د ژوندانه او دایمي حل لارې پر پروګرامونو کار پیل کړي.

هغه په دې برخه کې د نورو کورنیو او نړیوالو بنسټونو همکاري اړینه وبلله.

وروسته د بېلابېلو نړیوالو سازمانونو استازو د تېرو همکاریو او په راتلونکي کې د خپلو اړوندو همکاریو په اړه خبرې وکړې او ناسته پای ته ورسېده.



## بیش از ۱۰۰ خانواده در ولایت بدخشان مالک سر پناه شدند

۱۱۴ خانواده بیجاشده ناشی از رویدادهای طبیعی در ولسوالی های یمگان و راغستان ولایت بدخشان مالک سرپناه موقت شدند.

در محفلی که به همین مناسبت برگزارشده بود قاری امین الله طیب معاون والی بدخشان در مراسم افتتاح آن با تاکید بر توجه حکومت به مردم بیان نمود که در سال جاری حوادث بی شمار و ناگوار بیش از ۲۰ ولسوالی را در این ولایت متضرر کرده است و از دفاتر امداد رسان خواهان تطبیق پروژه های مؤثر به زیان دیده ها شد.

به گفته مولوی محمد یونس جهادمل رئیس امور مهاجرین و عودت کننده گان آن ولایت سرپناه یاد شده برای هر خانواده در مساحت ۴ بسوه زمین اعمار و جمعاً هزینه پروژ متذکره ۲ صدو ۱۲ هزار دالر امریکایی با حمایت مالی موسسه AHF که تطبیق کننده آن موسسه ودان میباشد چهار ماه قبل اغاز شده بود که بتاریخ ۹ میزان به بهر برداری سپرده شد.

گفتنی است که سرپناه یاد شده تحت نام کارته راغستان در شهر فیض اباد مرکز بدخشان اعمار شده است که ٦۲ خانواده از ولسوالی راغستان و ۵۲ خانواده از ولسوالی یمگان از آن مستفید شدند.



## برنامه آگاهی دهی در ولایت غزنی برگزارشد

برنامه آگاهی دهی از فواید اسناد مدنی از طرف ریاست امور مهاجرین ولایت غزنی به همکاری موسسه وستا برای ۴۰ تن بر گشت کننده ها و بیجاشده ها از تاریخ ۳۱ سنبله الی ۹ میزان به مدت دو روز در آن ولایت برگزراشد.

برنامه یادشده در مربوطات ولسوالی جغتو آن ولایت برگذار و در رابطه به مسایل حقوقی و فواید اخذ تذکره وسایر اسناد مدنی آگاهی لازم برای آنان ارایه گردید.

